كُلُّكُمْ رَاعٍ فَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ،

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «كُلُّكُمْ رَاعٍ فَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، فَالأَمِيرُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُمْ، وَالمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ بَعْلِهَا وَوَلَدِهِ وَهِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْهُمْ، وَالعَبْدُ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْهُ، أَلاَ فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ». «په تاسو کې هر يو ساتونکی او د خپل رعيت مسؤول دی، څوک چې په خلکو باندې واکمن وي هغه ساتونکی او د هغوی د ساتنې مسؤوليت لري او يو سړی د خپلې کورنۍ د خلکو ساتونکی او د هغوی د ساتنې مسؤوليت لري او ښځه د خپل ميړه د کور او د هغه د اولادونو ساتونکې ده او د ساتنې مسؤوليت يې لري او خادم د خپل مالک د مال ساتونکی او د هغه مسؤول دی، خبردار اوسئ چې ستاسو هر يو مسوولیت لري او هر يو ستاسو څخه د خپل رعيت مسوول دی».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې په ټولنه کې هر مسلمان مسؤليت لري چې بايد په غاړه يې واخلي. واکمن د هغه څه د ساتنې مسوول دی چې الله ورسپارلي دي، بايد قوانين يې خوندي کړي او له هغه چا يې ساتنه وکړي چې تيری پرې کوي او دا چې د دښمنانو په وړاندې يې مبارزه وکړي او حقونه يې ضايع نه کړي. او هر سړی په خپلې کورنۍ کې مکلف دی چې نفقه ورکړي، ښه ژوند ورسره وکړي، زده کړه پرې وکړي او ادب ور وښيي. ښځه د خپل ميړه په کور کې د هغه د کور د سم مديريت او د هغه د ماشومانو د پالنې مسووله ده او مسؤوليت يې په غاړه لري. خدمتګار نوکر او مزدور د خپل بادار په هغه مال کې چې په واک کې يې دی د ساتنې او د هغه د خدمت مسوولیت لري. نو ستاسو هر يو د هغه څه ساتونکی دی چې ساتل يې ورتر غاړې دي او هر يو د خپل رعيت مسوول دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5819